ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼـــه: ۰۲ | مسلسل نمبر: ۱۴۰

پنجشنبه، شوال المکرم ۲۲مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال

اباډي اوونیزه

هفته نامه آبادی

## سرلیکنه




د افغانستان او منځنۍ اسیا د مشورتي خبرو اترو ناسته په کابل کــې د بهرنیو چارو وزیر په مشرۍ او د منځنۍ اسیا د هېوادونو د لوړپوړو استازو په ګډون جوړه شوه. په دې ناسته کې د سیاسي او امنیتي موضوعاتو ترڅنګ پر اقتصادي مسایلو خبرې وشوې. ګډونوالو ټینګار وکړ چې د سیمې د بدلونونو، ډیپلوماتیکو همغږیو او د همکاریو د پراختیا لپاره دې یو خو اړخیز مشورتي میکانیزم رامنځته شي. د اســلامي امارت په راتګ سره بیا تر دې مهاله افغانســتان د نورو برخو ترڅنګ په اقتصادي په تېره بیا سوداګرۍ برخه کې ښــه پرمختګ کړی دی. خو دغه پرمختګونه چې په افغانســتان کې شوي دي، د ځینو ګاونډیانو د ســترګو اغزي ګرځېدلي دي. په یوه او بله بهانه غواړي چې افغانستان یو ځل بیا له پرمختګ څخه راوګرځوي. ســوداګریزې لارې بندوي او په دې طریقه هڅه کوي چې زموږ سوداګري وننګوي او په دې برخه کې د پرمختګ مخه ډب کړي. خو اســلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ په غوره کولو سره تل هڅه کړې چې له ګاونډیو، ســیمې او نړۍ له هېوادونو سره خپلې اقتصادي اړیکې پراخې او افغانستان په دې برخه کې د پرمختګ او ترقۍ په لور روان کړي. په دې برخه کې د ګاونډیو او سیمې له هېوادونو سره یې د اړیکو د پراختیا په برخه کې ځینې نوښــتونه کړي دي. د افغانستان او منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ د مشورتي خبرو اترو ناسته د اســلامي امارت له لوري یو ښه ابتکار و. د داسې غونډو په جوړېدو سره به افغانستان پر دې وتوانیږي چې له تقابل څخه د همکارۍ او فرصتونو په لور حرکت وکړي.

بله دا چې د افغانستان او منځنۍ اسیا مشورتي خبرو اترو ناســته به دا په ډاګه کړي چې افغانستان په سیمه ییزو معادلو کې فعال رول لري او د دې نوښــت په ترڅ کې هڅه داده چې ګډې ستونزې مدیریت، جیو-اقتصادي ظرفیتونه په عمــلي فرصتونو بدل او د افغانســتان او منځنۍ اسیا ترمنځ سیمه‌ییزه همغږي لا پیاوړې شي. په دې مشورتي ناسته کې چې د کوم میکانیزم یادونه شوې ده د دې میکانیزم له لارې به افغانستان او منځنۍ اسیا هېوادونه د عمل‌محور او اقتصاد محور لیدلوري له مخې هڅه وکړي چې د ســوداګرۍ پرمختــګ، اتصال او دوامــداره ثبــات لپاره ګډه لار نقشــه جــوړه کړي. د ســوداګرۍ، اتصال او دوامداره ثبات په رامنځته کېدو سره به زموږ د سوداګرۍ حجم زیات، د کاسا زر، تاپي، ټوټاپ او سیمه‌ییزې اوسپنې کرښې په څېر د سیمه‌ییز اتصال ســتري پروژې به عملي او په سرحدونو کې به امنیتي وضعیت ښه شي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي، افغانســتان د ســیاسي پرمختــګ ترڅنــګ په اقتصادي برخه کې په خپلو پښــو ودروي. د اقتصادي وضعیت په ښه کېدو به افغانستان په بېلا بېلو سکتورونو کې د ترقۍ لارې ته برابر او زېربناوې به ورغوي. له دې سره به موږ پر یوه یا دوو هېوادونو له متکي کېدو وژغورل شــو او بله دا چې افغانستان به د داسې نوښتونو په ترڅ کې ډېر ژر پر خپلو پښو ودرېږي او په سیمه ییزو معادلاتو کې به خپل رول لکه څنګه چې په کار دی، ولوبوي.

### د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وشو



۲ صفحه

### اسلام کلا بندر ته راتلوونکي ایراني باروړونکي موټر چلوونکي نور د افغانســتان ویزې ته اړتیا نه لري



۳مه صفحه

### کابــل او تاشــکند؛ د ســوداګــرۍ کچه پنځه میلیارد ډالرو ته رسوي



۴مه صفحه

## د پانګونې پر يوشمېر طرحو بحث وشو



د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د حمل مياشتې په ۱۸مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د سوداګريز مارکېټ جوړولو، په کابل ښار کې د کثافاتو د سوځولو او پروسس له لارې د بريښنا توليد د عصري فابريکې جوړولو او همداراز په کندهار، هرات او بلخ ولايتونو کې د تراکتورونو او کرنيزو ماشينونو د مونتاژ او تدريجي توليد طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

له بحث وروسته يادې طرحې د تخنيکي او اقتصادي ارزونو په موخه اړوندو ادارو ته راجع او سپارښتنه ورته وشوه، چې خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بين الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## د اوونۍ اقتصادي خبرونه

### تلاش‌ها برای ایجاد دهلیز ترانسپورتی جدید میان روسیه، ترکمنستان و افغانستان

قرار است توافق‌نامه سه‌جانبه برای ایجاد یک دهلیز ترانسپورتی میان روسیه (تاتارستان)، ترکمنستان و افغانستان در ماه می سال ۲۰۲٦ در نشست «کازان» به امضا برسد. رسانه‌های روسی به نقل از رییس مرکز تجاری روسیه در افغانستان گزارش داده‌اند که این مسیر به‌عنوان بدیلی برای دهلیز «شمال-جنوب» در نظر گرفته شده؛ دهلیزی که به‌دلیل درگیری‌های نظامی در ایران، استفاده از آن دشوار شده است.

رستم حبیبولین افزوده که ابتکار این پروژه از سوی وزیر صنعت و تجارت افغانستان مطرح شده و قرار است نخستین محموله‌های کالا از تاتارستان ارسال شود. بر بنیاد گزارش‌ها، این دهلیز جدید می‌تواند برای صادرکنندگان روسیه و نیز شرکت‌های اروپایی و آسیایی که به‌دنبال مسیرهای مطمئن برای انتقال کالا هستند، اهمیت داشته باشد.

### بررسی امکان استخراج فلزات کم‌یاب درافغانستان از سوی قزاقستان

رسانه‌های قزاقستانی گزارش داده‌اند که این کشور در حال بررسی امکان استخراج فلزات کم‌یاب در افغانستان و رواندا است. برپایه‌یی این گزارش "شرکت ملی معدن "تاو-کن سامروک"" در حال انجام بررسی‌های لابراتواری روی نمونه های مواد معدنی جمع‌آوری‌شده از این دو کشور است. گفتنی ست، که این موضوع در "حاشیه‌ی نشست "زمین‌شناسی و اکتشاف آسیای مرکزی ۲۰۲٦ از سوی معین وزارت صنعت و ساختمان قزاقستان " مطرح شده است. هم‌زمان، وزارت معادن و پترولیم تاکید می‌کند، که افغانستان با ذخایر غنی معدنی، به‌ویژه عناصر نادر، ظرفیت بالایی برای سرمایه گذاری و استفاده موثر از این منبع‌ها را دارد. آگاهان اقتصادی به این باور اند، که در صورت پیش‌رفت این روند، افغانستان می‌تواند در آینده به‌یکی از منابع مهم تامین فلزات کم‌یاب درمنطقه تبدیل شود. قطب‌الدین یعقوبی، آگاه اقتصادی گفت: «سکتور معادن یکی از بخش‌های مهمی اقتصادی افغانستان را تشکیل می‌دهد، کار روی استخراج، اکتشاف، پروسس و یاهم فروشی فلزات کم‌یاب می‌تواند؛ از لحاظ اقتصادی در شرایط کنونی برای افغانستان فوق‌العاده مهم و و اقتصادی تلقی شود.» عبدالظهور مدبر، آگاه اقتصادی، گفت: «این امر سبب افزایش درآمد در افغانستان می‌شود، فرصت‌های اشتغال بیش‌تر خواهد شد و کشور می تواند به‌نحوی صاحب ثروت شود. هم‌چنین موقعیت ژیوپولتیک افغانستان تقویت شده و صادرات افزایش می یابد.» پیش‌تر، نیز سفیر امارت‌اسلامی‌افغانستان در انقره در دیدار با سفیر قزاقستان در ترکیه، دو طرف بر گسترش و تقویت پیوندهای دوجانبه میان افغانستان و قزاقستان در بخش‌های سیاسی، اقتصادی و فرهنگی پافشاری کردند و دیدگاه‌های خود را درباره‌ی راه‌های توسعه هم‌کاری‌های مشترک تبادله کردند.

## گســــترش همکاری‌های دارویی کابل – تاشـــکند؛ امضای قراردادهای میلیون‌دالری در کابل

معینیت غذا و داروی وزارت صحت عامه افغانستان نشستی را با هیات ازبیکستان به رهبری عبدالله عزیزوف به‌منظور توسعه همکاری‌های دوجانبـــه در بخش دارو در کابل برگزار کرد. در این نشست، معین غذا و داروی صحت‌عامه با اشاره به شرایط منطقـــه‌ای گفت که با وجود چالش‌هـــا و درگیری‌ها، ادامه‌ی چنین نشســـت‌هایی نشان‌دهنده‌ی توســـعه و تحکیم پیوندها میان دو کشور است. وی افزود که دو طرف در بخش سـازوبرگ‌های دارویی نیز در حال برنامه‌ریزی‌اند و پافشاری کرد که همکاری‌ها باید صادقانه و دوام‌دار پیش برده شـــود. حمدالله زاهد، معین غذا و داروی وزارت صحت‌عامه، در این باره افزود:«ما به این تاجران هم اطمینان می‌دهیم که نظر به مصوبه برای تان سهولت‌های بی‌شمار ایجاد کنیم، واردات که در حال از راه‌های بحری و فضایی با مشکل روبه‌رو شده است اگر یک پکیج مشترک ایجاد کنیم تا تاجران و صنعت‌کاران با یک‌دیگـــر از طریق آن در ارتباط باشـــند.» در ســـوی دیگر، عبدالـــله عزیزوف، رییـــس آژانس توسعه‌ی صنایع دارویی ازبیکستان نیز بر گسترش همکاری‌ها میان کابل و تاشکند در بخش دارو پافشـــاری کرد. وی گفت که در دیدار با نورالدین عزیزی، روی افزایش سرمایه‌گذاری و صادرات تا سقف ۵۰۰ میلیون دالر در بخش دارو گفت‌وگو شده است. آقای عزیزوف در این باره افزود: «رهبری دو کشـــور هدف‌گذاری کرده‌اند تا حجم تجـــارت دوجانبه که اکنون نزدیک به ســـه میلیارد دالر اســـت، در ســـال‌های آینده به پنج میلیارد دالر افزایش یابد و بخشی از این رشد مربوط به بخش دارو خواهد بود.» در این نشســـت، ۱۳ قرارداد تجاری به ارزش بیش از ۲۵ میلیون دالر میان بخش خصوصی دو کشور در حوزه‌ی عرضه و تولید دارو امضا شد. مســـؤلان سکتور خصوصی افغانســـتان از سرمایه گذاران ازبیک خواســـتند که در بخش داور در کشـــور سرمایه گذاری کنند. احمدســـعید شـــمس، رییس اتحادیه‌ی صنعت دوایـــی و محصولات صحـــی، در این باره گفـــت: «ما آماده هســـتیم که در بازارهای ازبیکستان سرمایه‌گذاری کنیم و هم چنان از سرمایه‌گذاران این کشـــور دعوت می‌کنیم تا بیایند در بخش داروی ازبیکی در کشورها سرمایه‌گذاری کنند، ما آماده ی سرمایه‌گذاری مشـــترک هســـتیم.» این نشست در حالی برگزار می‌شـــود که افغانســـتان پیش‌تر بخـــش عمده‌ی نیاز دارویی خود را از پاکســـتان تامین می‌کرد؛ مگر با بروز مشکل در تجارت و واردات، تلاش‌ها برای تنوع‌بخشـــی به منبع‌های دارو از کشورهای دیگر به‌ویژه ازبیکستان افزایش یافته است.



## افزایش بهای ســـوخت؛ اطمینـــان از ذخایر در برابر نگرانی‌های شهروندان

با افزایش روزافزون بهای گاز و تیل در بازارهای جهانی، تاثیر آن بر بازارهای داخلی افغانســـتان نیز محســـوس شده است. کاهش عرضه، افزایش تقاضا و مشکل‌ها در انتقال مواد نفتی از عامل‌های اصلی این افزایش عنوان می‌شـــود. مســـؤلان امارت‌اسلامی می‌گویند که تلاش کرده‌اند از افزایش بی‌رویه ی قیمت‌ها پیش‌گیری کنند. به‌گفته‌ی آنان، بهای مواد نفتی در افغانستان در مقایسه با کشورهای همسایه میان ۴۰ تا ۶۰ درصد پایین‌تر نگه داشته شده است. کوچی یوسف‌زی، سخن گوی شرکت امارتی نفت و گاز افغانســـتان، در این باره افزود: «به شکل روزانه نزدیک به ۱۵هزار تُن مواد نفتی به کشور وارد می‌شود، و به همین شکل به هم‌وطنان اطمینان می‌دهیم که در ذخیره‌های اســـتراتژیک خود به انـــدازه‌ی کافی تیل و گاز داریم و کوشـــش داریم تا بهای گاز و تیل در بازارهای کشور بلند نرود.» اطمینان امارت‌اســـلامی برای کنترول بهای مواد سوخت در حالی‌ســـت که تنها در یک روز گذشته، قیمت‌ها تا چهـــار افغانی افزایش یافته اســـت. با این حال، شـــماری از رانندگان و شـــهروندان از افزایش روزافزون قیمت‌ها شکایت دارند و می‌گویند که این وضعیت هزینه‌های زندگی و کار آنان را افزایش داده است. فرشاد، راننده، در این باره گفت: «دیزل لیتر ۷۰ افغانی و پترول ٦٦ افغانی است، خودم در شهرنو کار می‌کنم سواری را از یک سو به سوی دیگر می‌برم گاز و یا تیل خلاص می‌شود.» در همین حال، اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانســـتان نیـــز اطمینان می‌دهد که مـــواد نفتی در بازارهای کشـــور فراوان موجود اســـت و تاجران برای واردات بیش‌تر تلاش می‌کننـــد. محمدولی امینی، رییس هیات‌عامل اتاق تجارت و سرمایه گذاری، در این باره پافشـــاری کرد که : «بلند رفتن قیمت مواد ســـوخت با در نظرداشـــت وضیعت در جهان طبیعی اســـت، فعلا به صورت وافر تیل و گاز در کشور وجـــود دارد و روزانه از بندرهای مثـــل آقینه، تورغندی و دیگر بندرهـــا تیل وارد کشـــور می‌شـــود.» این در حالی‌ســـت که افغانستان هم‌چنان وابسته به واردات مواد نفتی از کشورهای منطقه، به‌ویژه ایران، روســـیه و ترکمنســـتان است و هرگونه نوســـان در بازارهای جهانی و مســـیرهای انتقـــال، می‌تواند مستقیم بر قیمت‌ها در داخل کشور تاثیر بگذارد.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه



اباديِ اوونيزه
هفته نامه آبادی



# کابـــل او تاشـــــکند؛
## د سوداګرۍ کچه پنځه ميليارد ډالرو ته رسوي

قيس احمد

د افغانستان او ازبيکســـتان ترمنځ سوداګريزې اړيکې د بې‌سارې پراختيا مرحلې ته داخلې شوې دي او اوس دواړه لوري هڅه کوي چې دا اړيکې لا ژورې او پياوړې کړي. د رسمي شمېرو له مخې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســـوداګرۍ کچه چـــې په ٢٠٢١ کال کې شـــاوخوا ٦٥٣ ميليون ډالره وه، تر ٢٠٢٥ ميلادي کال پورې ١,٧ ميليارد ډالرو ته رسېدلې ده. اوس هدف دا ټاکل شوی چې دا کچه په نږدې راتلونکي کې پنځه ميليارد ډالرو ته لوړه شي.

که څه هم دا هدف له اقتصادي پلوه هيله‌بښـــونکی ښکاري، خو اساسي پوښتنه دا ده چې ايا دا هدف په واقعي شرايطو کې عملي کېدای شي که نه؟ هو، د افغانستان او ازبيکستان اوسنيو اړيکو او موجودو فرصتونو ته په کتو دا هدف عملي کېدای شي.

لومړی؛ په دې وروستيو کې د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزير الحاج نورالدين عزيزي او د ازبيکستان د لومړي وزير د مرستيال جمشيد خوجه‌يف ترمنځ د انلاين ليدنې پرمهال دا څرګنده شوې چې د سوداګرۍ د پراختيا لپاره سياسي اراده موجوده ده. د دې يوه ښه بېلګه د ازبيکســـتان د ولسمشر له لوري له افغانستان سره د ترجيحي تعرفې د سوداګرۍ قانون توشيح کېدل دي. د ترجيحي تعرفو د هوکړې له مخې، د افغانستان لپاره پر اته او د ازبيکستان لپاره پر شپږ ډوله توکو تعرفې صفر شوې دي، چې دا کار کولی شي د سوداګرۍ لګښتونه راکم او د توکو جريان چټک کړي.

دويم؛ سربېره پر دې، د خصوصي سکټور ترمنځ د څه باندې يو ميليارد ډالرو په ارزښت د لسګونو تړونونو لاسليک کېدل دي، چې دا د دواړو هېوادونـــو ترمنځ د ســـوداګرۍ او اقتصادي همکاريو د پراختيا او پرمختګ برخه کې ښه زېری بلل کېږي.

درېيم؛ د ســـياسي ارادې او لويو تړونونو د لاسليک کېدو ترڅنګ ترانسپورټي اسانتياوې هم رامنځته شوې دي. اوسمهال د پخوا په پرتله له دواړو لورو د ترانسپورټي موټرونو شمېر زيات شوی. ويزې په اســـانۍ سره ورکول کېږي او په بانکي او مـــالي برخو کې د ګډو حللارو موندلو لپاره عملي هڅې روانې دي. د دې ترڅنګ د معياري ګدامونو جوړول هم راتلونکی مهم ګام دی.

څلورم؛ تر ټولو مهم دا چې اوسمهال په افغانستان کې امنيت راغلی او د بهرنۍ پانګونې لپاره ښـــه زمينه برابره شوې. ازبيک سوداګر او پانګوال پرته له کومې انديښـــنې کولی شي دلته تجارت او پانګونه وکړي. په دې برخه کې عملي هڅې شوې دي چې ښه نمونه يې د فاريـــاب ولايت د طوطي ميدان ګازو د اســـتخراج په برخه کې د ازبيک شرکتونو پانګونه ده.

پنځم؛ موجودو فرصتونو ته په کتو افغانستان کولی شي ازبيکستان ته د ډبرو ســـکرو، وچو مېوو او کرنيزو محصولاتو په صادراتو کې مهـــم رول ولوبوي او په بدل کې له ازبيکســـتانه برېښـــنا، نفت، ســـاختماني مواد او صنعتي توکي وارد کړي. دا تکميلي اقتصادي جوړښـــت د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختيا لپاره قوي بنسټ جوړوي.

سربېره پر دې، د سيمه‌ييزو همکاريو زياتوالی، لکه د منځنۍ اسيا هېوادونو سره د اقتصادي تعامل پراختيا، کولی شي افغانستان د يو مهم ترانزيټـــي دهلېز په توګه مطرح کړي. په همدې موخه تازه د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت په مشرۍ په کابل کې د افغانستان او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ مشورتي ناسته وشوه. د افغانستان او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ د سياسي خبرو او ډيپلوماتيکې همغږۍ پياوړتيـــا، د اقتصادي محور پر بنســـټ د نويو همکاريو د فرصتونو پېژندنه، د ســـيمه ييزو بدلونونو په اړه د نظرونو تبادله او د ثبات او دوامدارې پراختيا ملاتړ د دې ناســـتې مهـــم هدفونه وو، چې پر تعقيب يې ټينګار وشـــو. دا پرمختګ د دوامـــداره اقتصادي ودې بنسټ جوړوي او د سيمه‌ييز اتصال په لوري مهم ګام بلل کېږي.

اســـلامي امارت تل دا ډاډ ورکړی، چې افغانستان اقتصاد محوره بهرنۍ پاليسي تعقيبوي او چمتو دی چې د دوه اړخيزو او څو اړخيزو اقتصادي او ســـوداګرې اړيکو ترڅنګ په سيمه‌ييز اتصال کې هم خپل مهم رول په ښه ډول ترسره کړي. په ټوله کې د پنځه ميليارد ډالرو سوداګرۍ هدف ناممکن نه دی. د دې هدف ترلاسه کول به د سياسي اړيکو د ژورتيا تر څنګ د بنسټيزو اقتصادي فعاليتونو، د مالي سيســـتم پياوړتيا، د زيربناوو پراختيا او د خصوصي سکټور د ملاتړ ســـبب شي. په دې توګه، که موجود فرصتونه په مؤثر ډول مديريت شي، کابل او تاشکند کولی شي خپلې سوداګريزې اړيکې يوې نوې کچې (پنځه ميليارد ډالر او يا له هغه زيات) ته ورسوي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امريکايي ډالر | ٦٤,٧٠؋ | ٦٤,٧٥؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانۍ کلدارې | ٢١٩؋ | ٢٢٠؋ |
| ١٠٠٠ | ايراني تومن | ٠,٤٠؋ | ٠,٤١؋ |
| ١ | اروپايي يورو | ٧٣,٦٠؋ | ٧٣,٨٠؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٣؋ | ٠,٨٣؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلدارې | ٧٤٦؋ | ٧٤٤؋ |
| ١ | انګليسي پونډ | ٨٤,٨٠؋ | ٨٥,١٠؋ |
| ١ | سعودي ريال | ١٧,٣٠؋ | ١٧,٣١؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٧,٦٩؋ | ١٧,٧٠؋ |
| ١ | چيني ين | ٩,٤٤؋ | ٩,٤٤؋ |